# خوندي پیل، کینګ کاونټي

## د کینګ کاونټي اوس په دویمه مرحله کې ده

اپډېټ: د ۲۰۲۰ م کال د جون ۱۹ نېټه. په دې اړه نورو معلوماتو ته په طمعه اوسئ.

په شریکه سره مو وکولای شول چې د کوید ۱۹ ساري ناروغۍ خپرېدل ورو کړو. د اوس لپاره، کینګ کاونټي په دې هڅه کې ده چې په تدریجي ډول او احتیاط سره محلي اقتصادي فعالیتونه او د ورځینې ژوند نورې چارې پیل کړي.

کینګ کاونټي د واشنګټن د خوندي پیل پلان دویم پړاو ته داخل شو. ستاسي د استوګنځي شاوخوا محدودې ټولنیزې غونډې چې پنځه یا هم ترډې کم کسان په کې ګډون ولري، جوړېدلای شي. رستورانتونه، دوکانونه او نور سوداګریز ځایونه کولای شي پیرېدونکو ته خدمات وړاندې کړي. ځینې سوداګریز ځایونه اړ دي چې په لږه اندازه او محدودو ساعتونو لپاره خدمات وړاندې کړي او اړ دي چې د کینګ کاونټي هغه لارښوونې چې د پیرېدونکو او پلورونکو روغتیا او خوندیتوب په کې په نظر کې نیول شوی، تعقیب کړي. په دغو لارښوونو کې ټولنیز واټن، په مکرر ډول د لاسونو وینځل او په لږې استثناء سره د ټوټه ایز ماسک اغوستل شامل دي. د کوید ۱۹ ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي او د عادي اقتصادي فعالیتونو د بیا ځلي پیل لپاره د پورته ذکرشویو احتیاطي تدابیرو په نظر کې نیول اړین دي.

د واشنګټن هره کاونټي د وایروس د له منځه وړلو په برخه کې د هغوی د کامیابی په نظر کې نیولو سره، د خوندي پیل د څلورو پړاوونو څخه په ټاکلي سرعت تېرېږي.

هره کاونټي باید د خوندي پیل په هر پړاو کې د دریو اونیو لپاره پاتې شي، ترهغې چې روغتیایي چارواکي یې د وایروس د له منځه وړلو په اړه پرمختګ و ارزوي.

King County Adapted from: https://www.kingcounty.gov/depts/health/covid-19.aspx